| Proj.-Code | Location | Program / Type / Project / Division / Dept / Sub Dept | | Document / Sub Document / Reference / Revision |
|---|---|---|---|---|
| AFG/KBL/Gen | KBL | Pg-4 /ST/Pr-1 /UP/Div/Sub Dep | | OL/ ICR /(CRIDA/UP/2016/000)/xxx |

# د دندې لایحه

د ندې موضوع: ښوال

اړتیا : 3

پته: کابل دهسبز، لوګر محمدآغې

موخه: د اړوند ساحو د سمسورتیا له پاره

جنسیت: نارینه

د خبرتیا نېټه: 2016/11/15

د ختم نېټه: 2016 /11 /20

## د پلازمېنې زون د پراختیا خپلواکې ادارې لنډه پېژندنه

د افغانستان اسلامي جمهوریت د جلالتماب ولسمشر د ۱۳۹۵/۰۴/۰۳ نېټې د (۴۴) ګڼې فرمان چې د ا.ا.ج کابینې د ۱۳۹۵/۰۲/۱۱ نېټې د (۳) ګڼې مصوبې په بنسټ د یوه ور ښاري چاپېریال، د هېواد پلازمېنه کې د ورځ تر بلې زیاتېدونکي نفوس او همدارنګه د متمرکزو اقتصادي فعالیتونو له امله د ټولو را ولاړو ستونزو د حل په موخه صادر شو چې په ترځ کې یې د کابل نوي ښار پراختیايي اداره د پلازمېنې زون د پراختیا خپلواکې ادارې په نوم ونومول شوه او د ا.ا.ج د تشکیلاتو په لړکې د یادې ادارې واکونه د یوه خپلواک بودجوي او انتفاعي واحد په توګه زیات شول.

د پلازمېنې حوزه د کابل ښار او ټولې اړونده ولسوالۍ، د ورګو ولایت مرکز؛ میدان ښار، د پروان ولایت مرکز؛ چاریکار او د جبل السراج او بګرام ولسوالۍ، د کاپیسا ولایت مرکز؛ محمود راقي او د کوهستانونو ولسوالۍ او همدارنګه د لوګر ولایت مرکز؛ پل علم او د محمد اغې او خوشي ولسوالۍ چې ټول مساحت یې ۷۷۳۵ کیلومتره مربع کېږي، رانغاړي.

د پلازمېنې زون په اړونده سیمه کې د شته ستونزو د حل لارو موندنه او د پراختیايي پروژو عملي کیدل په هېواد کې د میلونونو افغانانو له هیلو سره تړلې دي. د 1381 نه تر 1385 پورې په پلازمېنه کې شته ستونزو ته په کتو سره؛ لکه: د نفوس ډېرېدنه، د کورونو او بنسټیزو شبکو نشتوالی، په بېساري توګه د اوزګارتیا زیاتوالی او د اوسېدو چاپیریال کې د هواککړتیا د حل لپاره ډول ډول اندونو شتون درلود. د لومړنیو مطالعاتو او کتنو په پایله کې دې نتیجې ته ورسېدو چې د هېواد پلازمېنه باید په نړیوالو معیارونو جوړه شي، تر څو په پلازمېنه کې د خلکو ګڼه ګونه لږه او نفوس په مساوي ډول د پلازمېنې په شاوخوا کې مېشت شي. نو له دې کبله د افغانستان د اسلامي جمهوریت د جلالتمأب ولسمشر د فرمان پر بنسټ په 1385 کال کې د کابل نوي ښار خپلواک پراختیايي بورډ منظور شو.

وروسته بیا په همدې کال، د کابل نوي ښار خپلواک پراختیايي بورډ د کابل نوي ښار پراختیايي اداره رامنځته کړه چې د یاد بورډ ټولې تخنیکي، مالي او اجرائیوي دندې یې ترسره کولې. د کابل نوي ښار پراختیايي ادارې په یوې لویې ملي پروژې کې د پانګونې لپاره د خصوصي پانګه والو د هڅونې په موخه د مدیریت، پلان، ډیزاین، د اسنادو زیرمه کولو، بازار موندنې، تطبیق او مراقبت دندې سرته رسولې. د یادولو ده چې د کابل نوي ښار پراختیايي ادارې د هېواد په تاریخ کې د لومړني ځل لپاره داسې علمي او تخنیکي راپورونه، کړنلارې او پلانونه چمتو کړي چې راتلونکې کې به ترې د هېواد په آبادۍ کې پوره ګټه واخیستل شي.

د پلازمېنې زون د پراختیا خپلواکې ادارې په منځته راتګ سره به نوموړې اداره نه یواځې د چمتو شوو ماسټر پلانونو د عملي کولو په برخه کې کوټلې ګامونه پورته کړای شي، بلکې لاندینیو ټکو ته په کتو سره د پلازمېنې زون شاوخوا سیمو کې د یوه پراخه لیدلورې په رڼا کې به خپلو دندو ته دوام ورکړې:

1- د پلازمېنې زون اصلي بنې رغونه په داسې توګه چې د ښار څېره د یوه لوی، پاک، نظیف، شنه، ښکلي او همدارنګه د کولتور، پوهې، صنعت، سوداګرۍ، ورزش، روغتیا او سیل په ګانه سمبال او بلاخره داسې ښار چې د یوې عصري پلازمېنې د ټولو شونتیاو و په لرلو سره په سیمه کې د دې خاورې د انسانانو د پرمختیا او نېکمرغۍ په موخه رامنځته شي.

2- د یوه لوی، خوځنده، په ځان بسیا، پایېدونکي او د معیاري عامه تسهیلاتو او ژوند چاپېریال په بنسټونو سمبال ښار رامنځته کول.

3- له قومي، ژبنیو، نژادي، سمتي او مذهبي ستونزو پرته د یوه لوی ښار رامنځته کول.

4- د پلازمېنې زون اړونده سیمو کې د ښارونو ودانول (د پلازمېنې اقتصادي زون متوازنې ودې په موخه د تمرکز ځپل) په داسې توګه چې د هغوی تاریخي او کلیوالي اصیلتوب وساتل شي او د کابل له اوسني ښار سره د ارګانیک تړښت (اوبدلو) له مخې د افغانستان د ملي یو والي د مظهر په توګه یې د پلازمېنې زون ته بدلول.

مسؤلیتونه او دندې:

- د ځمکې ساتنه او د وحشي حیواناتو، پرنده گانو او په غیر قانوني ډول د بوټو له پرېکولو او قطع کولو څخه مخنیوی.
- د هرزه بوټو لرې کول او ساحه د کښت لپاره اماده کول
- دقوریې جوړول د هغې ساتنه او په مناسب وخت کې یې د پلازمینې زون د پراختیا ساحوي دفتر په ځمکه کې کرل او د اړوند ساحې په لاسمسورتیا کار کول.
- د کمپوسټ (حیواني فضله په سره بدلول) جوړول
- د پوټو اوبه خور او د هغوی د اوبو د اړتیاو په اړه پوره مالومات لرل
- د ساحې د محیطي شرایطو سره تطابق لرونکو بوټو په اړه مالومات لرل
- د اړوند ساحې د طبیعي زېرمو او اقلیمي شرایطو په اړوند مالومات لرل.
- د کرل شویو نیالگیو او ونو ساتنه.
- د اړوند کرنېزو وسایلو ساتنه.
- د اړوند ساحې څخه د کثافاتو لرې کول.
- د کار د پرمختګ څخه د ساحوي دفتر آمرته راپور ورکول.

## وړتیاوې:

عمرېې له ۱۸ کلونو څخه کم او تر ۵۰ کلونو زیات نه وي.

باید ۳ کاله عملي کاري تجربه ولري

د کرنېزو چارو په هکله مالومات لرل لکه ( د تخمونو پېژندنه، د کرلو وخت، اوبه کول، کمیاوي کود او یا حیواني سرې، ناروغی او آفات، د نباتاتو د تکثیر بیلابېلې لارې چارې او د چاپېریالي شرایطو پېژندل).

د قوریې د کر او تکثیر په هکله پوره تجربه لرل

د فزیکي کار توانایي باید ولري

د ضرورت په وخت کې د اضافې کاری توان باید ولري

د هېواد په رسمي ژبو (پښتو او دري) و پوهېدلای شي.

که د اړوند ځای اوسېدونکی وي ښه به وي، که د بل ځای اوسېدونکی وي، باید د اړوند ساحې په هکله کافي مالومات ولري.

## د غوښوتنې لاره:

کاندیدان کولای شی چې په غوښتن لیک د خلص سوانح (CV) سره وړاندې له 2016/11/20 په لاندې پته باندې ورکړي.

Email: jobs@crida.gov.af
CC: mraza.nayeel@crida.gove.af

او یا کولای شی خپله (CV) په لاندې پته باندې د پلازمېنې زون خپلواکه پراختیایي ادره مرکزي دفتر ته تسلیم کړي

د پلازمېنې زون د پراختیا خپلواکه اداره | د حاجي یقوب څلورلاره، د سولې واټ، د انصاري لومړۍ کوڅه، ۲۱۴ نمبرکور، څلورمه ناحیه | کابل افغانستان

د مبایل شمېره: +93 (0) 75 2035153